# د سیدآباد د عالی لیسی تاریخی قدامت ته یوه لنده کتنه

دا ښوونځی په لومړی ځل په 1316 کال د سیدآباد د لوړیعنی د بلندی په کلی کی په لمړنیو ابتدایی زدکړود ملک یارجان په کورکی په زدکړو پیل وکړاو بیا دری کاله وروسته د امان خیلو د کلی یوه اوسیدونکی
محمد علم چی په پیزوان مشهور وو یو قطعه مځکه ورکړه او د دولت له خوا ورته د آتو خونو یو پوخ تعمیر جوړ شو. په 1320 کال یی نوی تعمیر ته را انتقال شو او په 1336 کال یی متوسطی دوری ته ارتقا وکړه او د نهم تولګی څخه یی دری دوری فارغان ورکړل او بیا په 1348 کال کی یی د لیسی دوری ته ارتقا وکړه او تر 1358 کال پوری تدریس په کی په منظم ډول جریان درلود په 1359 کال کی د انقلابی شرایطو له کبله وران او ویجاړشو او په 1373 کال بیا له سره پیل شو او تر دوولسم ټولګی پوری په ډیره مینه شاګردان په زدکړه مشغول شول چی تر اوسه پوری یی دوولس دوری فارغان ورکړی او د هیواد ممتازو پوهنځیوته د کانکورله لاری داخل شوی او زیاترویی عالی تحصیلات بشپړکړی او د هیواد په دولتی او غیر دولتی موسسو کی په کار ګومارل شوی دی او هرکال 100-120 پوری دد وولسم ټولګی څخه فارغان ورکوی د شاګردانو تعداد یی اوس ( 1492) تنوته رسیری او هر صنف دری ،دری ځانګی لری چی دوه وخته تدریس په کی جریان لری. او دالیسه څلورپاخه تعمیرونه او 36 خونی لری چی دیرش درسی خونی اوپاتی نوری یی د نورو ضرورتونو لپاره کارول کیږی ټول اداری او تدریسی پرسونل یی 63 تنه دی چی له دی جملی 49 استادان چی په دی کی 7 تنه لسانس ښوونکی او 10تنه څورلسم پاس او 32 دوولسم پاس ښوونکی په تدریس لګیا دی چی یو مدیر دوه مرستیالان او دوه سر ښوونکی ،یو اداری مامور یو تحویلدار،اووه کسه ملازمین لری.
چی د نوموړی لیسی اداری او تدریسی چاری د یوی شورا له خوا چی د محل د مخورو کسانو څخه جوړه شوی ده چی دنوموړی شورا رئیس متقاعد جنرال الحاج جمعه ګل ( ارمانجن) او لس تنه نور اعضا لری همدارنګه په دی لیسه کی یو کلینیک چی چاری یی د ولسوالی د کلینیک د مسولینو له خوا په مخ وړل کیږی دغه راز یو تعاونی صندوق هم لری چی څلورتنه غړی لری چی یویی دشورا له خوا یو تن ښوونکی یو د ادرای اعضاو څخه او یو هم د زده کوونکوپه نماینده ګی تعین او دغه چاره په مخ وړی .
شپرپایی کمپیوتر هم په دغه لیسه کی موجود دی چی د مهال ویش له مخی په اونی کی یو ساعت په لسم،یولسم،دوولسم ټولګیوکی د یوه مسلکی ښوونکی له خوا تدریس کیږی د سیدآباد عالی لیسه د درسی موادو ، کمپیوترونو،فوتوستت ماشین،پروجکتورماشین،د عکاسی کامره او همدارنګه د لابراتوار،کتابخانی، تحویلخانی اطاقو ته ضرورت لری .
په پای کی د محترم ورور داکتر صاحب یحی وردګ څخه دلیسی ښوونکی اوزده کوونکی د زړه له تل څخه مننه کوی چی د د ی لیسی د کتابخانی سره یی ( ) توکه کتابونه مرسته کړی ده او د سیدآباد عالی لیسه د افغان فرهنګی ټولنی د لا زیاتو مرستو په هیله.

جمهوری اسلامی افغانستان
لیسه ولسوالی سید آباد
ریاست معارف ولایت میدان وردک
پوهنې وزارت

منته